
# د مکّے فضائلِ او حج

**24-June-2021**



هفته وار ه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# فضائلِ مکه و حج

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

مُحترمو اسلامي ورونړو! چې کله جُمات ته داخل شئ، نو ياد ساتئ او د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې په جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدلو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د مخکښې نه مو د اعتکاف نِيَّت کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت سَيِّدُناحفص رومي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ډير غټ سردار وو، هغوئې د وفات نه پس چا په خوب کښې اوليدلو نو تپوس ئې ترينه اوکړو: **مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ**، يعني الله پاك تاسو سره څه مُعامَله اوفرمائيله؟ جواب ئې ورکړو: الله پاك په ما رحم اوکړو، زه ئې اوبخښلم او جنت ته ئې داخل کړم. تپوس ئې ترينه اوکړو: د کوم عمل په سبب؟ هغوئې جواب ورکړو: چې کله د الله پاك په بارګاه کښې حاضر شوم نو الله پاك فرښتو ته حکم ورکړو چې زما د ګناهونو او زما د لوستلو شوو دُرود شريف حساب

اولګوي، چې کله حساب اولګولے شو، نو زما دُرود زما د ګناهونو نه زيات شو، الله پاك ارشاد اوفرمائيلو: اے زما فرښتو! د ده قدر او عِزَّت تاسو ته ښکاره شو ، د ده نه نور حساب مه اخلئ او جنت ته ئې بوځئ. [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعنې) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے. [2]

اے عاشقانِ رَسُول! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو:

نِيَّت اوکړئ چې، ❁ نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❁ چې څومره کيدے شو د ډېر وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې] کښينم ❁ که قلم کاغذ درسره وي نو د اهمو نکاتو نوټ کولو نِيَّت هم اوکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! نن زمونږ د اجتماع د بيان موضوع ده "**فضائِلِ مکه و حج**". په دې بيان کښې به مونږ اورو ❁ د کعبے شريفې اوچت شان، ❁ کعبه

---

[1]...اَلْقَوْلُ الْبَدِيْع، صفحه:124۔

[2]...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

شریفه د امن ځائے دے، ۞ د انبیائے کرامو د حج روایتونه، او ۞د حج فضائل. په ډیر ذوق او شوق او د زړه په حاضرئ سره پورا بیان د اوریدلو کوشش اوکړئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰه د ډیرو معلوماتو خزانه به په لاس درشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ۞۞۞ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژوند مبارک کښې یو ځل غیرمسلمو په مسلمانانو باندې اعتراض اوکړو چې ستاسو قبله کعبه ده او زمونږه قبله بیتُ الْمُقَدَّس (یعنې مسجدِ اقصٰی) ده او بیتُ الْمُقَدَّس د کعبے شریفې نه افضل دے، لِهٰذا زمونږه دِین ستاسو د دِین نه افضل دے، په دې دعوٰی باندې غیرمسلمو یو څو دلائل هُم ورکړل، مثلاً یو دلیل ئې دا ورکړو چې بیتُ الْمُقَدَّس اَوَّل جوړ شوے دے او کعبه شریفه وروسته جوړه شوې ده، لِهٰذا بیتُ الْمُقَدَّس ته اوچت شان حاصل دے، دویم دلیل ئې دا وو چې بیتُ الْمُقَدَّس په مُلكِ شام کښې دے او د شام زمکه برکت والا ده، په ورځ د قیامت به د مَحشر میدان هم دلته لګي (هٰغه وخت ملكِ شام ډیر فراخه وو، فلسطین هم په مُلكِ شام کښې شامل وو، په دې وجه غیر مسلمو داسې اووئیل)، دغه شان بیتُ الْمُقَدَّس د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام قبله ده، نو بیتُ الْمُقَدَّس د کعبے شریفې نه افضل دے. (1) د غیر مسلمو د دې اعتراض په جواب کښې الله پاك د سیپاره4، سوره آلِ عمرٰن آیت نمبر96 او 97 نازل کړل، چنانچه ارشاد فرمائي:

---

[1]…تفسیر نعیمی، پارہ:4، آل عمران، تحت الآیة96، جلد:4، صفحه:29۔

اِنَّ اَوَّلَ بَیْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِیْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا وَّ هُدًى لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۶﴾ فِیْهِ اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِیْمَ ۚ وَ مَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ وَ لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَیْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَیْهِ سَبِیْلًا ؕ وَ مَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ عَنِ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۷﴾

(پارہ4، سورۃ آلِ عمران:96-97)

مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: بيشكه د ټولو نه وړومبے كور كوم چې د خلقو د عبادت د پاره جوړ شوے دے هغه دے كوم چې په مكه كښې دے، بركت والا دے او د ټول جهان والؤ د پاره هدايت دے، په دې كښې ښكاره نښې دي، د ابراهيم د اودريدلو ځائے [پكښې] دے او څوك چې دې ته داخل شو په امن كښې شو او د الله د پاره په خلقو باندې د دې كور حج كول فرض دے څوک چې دې ته د تللو طاقت لري او څوك چې انكار اوكړي نو الله د ټول جهان نه بےپرواه دے.

په دې آيتونو كښې الله پاك د كعبے شريفې 6 صفات ذِكر كړل: (1) كعبه شريفه اوَّلنۍ عبادت ګاه ده (2) كعبه شريفه بركت والا ده (3) كعبه شريفه د ټول جهان والؤ د پاره د هدايت سبب ده (4) په كعبه شريفه كښې د الله پاك واضحه نښې دي (5) كعبه شريفه د امن مقام دے (6) د كعبے شريفې حج كيږي.

## د قرآنِ كريم حُسنِ بيان

اے عاشقانِ رسول! دلته يو د ايمان نه ډك مدني ګل دے، هغه دا چې كعبه شريفه او مسجدِ اقصٰى، دا دواړه د فضيلت ځائيونه دي، ❁ الله پاك په سوره بنـي اسرائيل كښې د مسجدِ اقصٰى فضائل هُم بيان كړي دي، ❁ په دُنيا كښې درې جماتونه د ټولو نه افضل دي: (۱) مسجدِ حرام (چرته چې خانه كعبه ده) (۲) مسجدِ نَبَوي شريف [كوم ځائے چې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روضه مباركه ده] (۳) او د فضيلت په اعتبار سره د دُنيا

دريم لوئ جمات: مسجدِ اقصٰی دے. ۞ په مسجدِ اقصٰی کښې د يو لمُونځ ادا کولو ثواب د 50 زرو لمُونځونو برابر دے، ۞ **بَیْتُ الْمُقَدَّس** د انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلام قبله ده، ۞ **بَیْتُ الْمُقَدَّس** زمونږه هم وړومبنۍ قبله ده، زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هجرت نه پس 17 مياشتو پورې **بَیْتُ الْمُقَدَّس** طرف ته لمُونځ ادا کړے دے بيا ئې د الله په حکم کعبے شريفې ته مخ کړلو. [1] ۞ خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل سَفَرِ معراج شروع هم د **بَیْتُ الْمُقَدَّس** نه کړې وه. [2]

الغرض: **بَیْتُ الْمُقَدَّس** هم د فضيلت مقام دے، کعبه شريفه هم د فضيلت مقام دے، خو غيرمسلمو د خپل ناقصه ذِهن مطابق د دې دواړو د فضيلت مقامونو موازنه اوکړه، او د خپل ذِهن مطابق ئې **بَیْتُ الْمُقَدَّس** د کعبے شريفې نه افضل اوګڼړلو. الله پاك د هغوئي د دې باطلې نظريئے رد اوکړو، د هغوئي د اعتراض جواب ئې ورکړو خو قربان شم چې په څومره ښکلي انداز کښې ئې د غير مسلمو رد اوفرمائيلو، [يعني] د کعبے شريفې فضائل ئې بيان کړل خو د **بَیْتُ الْمُقَدَّس** فضيلت ئې هُم کم نه کړو، قرآنِ کريم دا اوفرمائيل چې کعبه شريفه برکت والا ده خو دا ئې اُونه فرمائيل چې د **بَیْتُ الْمُقَدَّس** څه فضيلت نشته. قرآنِ کريم دا اوفرمائيل چې کعبه شريفه د هدايت باعث ده خو دا ئې اونه فرمائيل چې **بَیْتُ الْمُقَدَّس** د هدايت سبب نه دے. قرآنِ کريم دا اوفرمائيل چې په کعبه شريفه کښې د الله ښکاره نښې دي خو دا ئې نه دي فرمائيلي چې په **بَیْتُ الْمُقَدَّس** کښې د الله پاك هيڅ نښې نشته. يعني قرآنِ کريم د غير مسلمو رد هم اوکړو او د کعبے شريفې فضائل ئې هم بيان کړل او د بَیْتُ الْمُقَدَّس

---

[1] ...بخاری، کتاب:اخبار الاحاد، صفحه:1757، حديث:7252۔

[2] ...بخاری، کتاب:مناقب الانصار، باب:المعراج، صفحه:976، حديث:3887۔

فضیلت او عِزَّت کښې ئې کمې هم رانوستلو. معلومه شوه چې کله هم د دوو فضیلتونو والا څیزونو ذِکر وي او په هغې کښې د یو شان بیانول وي نو په داسې انداز دِ بیان کړے شي چې د هغه بل څیز په شان کښې هم کمے رانشي، مثلاً چې کله مونږه د خپل خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان و عظمت بیانوو نو په داسې انداز به ئې بیانوو چې د نورو انبیاؤ عَلَيْهِمُ السَّلَام په شان کښې بے ادبي اونشي. چې کله مونږه د صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان شان بیانوو نو په داسې انداز به ئې بیانوو چې د اهلِ بیتو شان و عظمت هم برقراره وي، او چې کله د اهلِ بیتو شان و عظمت بیانوو نو په داسې انداز به ئې بیانوو چې د صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په شان کښې بے ادبي اونشي.

ہم کو اللہ اَور نبی سے پیار ہے | اِنْ شَآءَ اللّٰہ! اپنا بیڑا پار ہے
اُمَّہاتُ المؤمنین و چار یار | سب صَحابہ سے ہمیں تو پیار ہے
غوث و خواجہ داتا اور احمد رضا | سے بھی اور ہر اِک ولی سے پیار ہے[1]
اِنْ شَآءَ اللّٰہ! اپنا بیڑا پار ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د کعبے شریفې شانِ اوَّلِیَّت او د هغې دلائل

اے عاشقانِ رسول! اوس مونږه د سیپاره4، سوره آلِ عمرٰن د آیت نمبر96 او 97 اوریدلو سعادت حاصل کړو، په دې آیتونو کښې الله پاك د کعبةُ الله شریف شپږ صفات ذِکر کړي دي، په دې کښې اوَّلنے صِفَت الله پاك داسې بیان فرمائي:

[1]...وسائلِ بخشش، صفحه:700۔

| | |
|---|---|
| اِنَّ اَوَّلَ بَیْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ (پارہ4،سورۃآلِ عمران:96-) | مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: بیشکه د تولو نه وړومبے کور کوم چې د خلقو د عبادت د پاره جوړ شوے دے |

د دې آيت نه معلوم شوه چې کعبه شريفه د دُنيا د ټولو نه اوَّلنئ عبادت ګاه ده. بلکه حضرت عبدُ الله بِن عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُما په يو مقام کښې کعبةُ الله شريف ته "سُرَّةُ الْاَرْض" فرمائيلي دي(1) د "سُرَّةُ الْاَرْض" معنیٰ ده: د زمکې نوم. مطلب دا چې د زمکې په کومه ټکړه باندې خانه کعبه شريفه موجود ده، دا ټکړه د ټولو نه اوّل پيدا کړے شوي ده او د دې ځائے نه ټوله زمکه خوره شوي ده.

په اصل کښې چې کله دا زمکه نه وه، اسمان نه وو، عرشِ اِلٰهي په اوبو باندې وو، الله پاك يوه زورروره هوا رااوليږله، د هغې په وجه په اوبو کښې چپے پيدا شوې، د هغه چپو په وجه په اوبو زګ جوړ شو، بيا د هغې نه بُخارات اوچت شو، هم هغه بُخارات الله پاك اوچت کړل او د هغې نه ئې اسمان جوړ کړو. ځکه الله پاك اسمان ته "لوګے" وئيلے دے، [قرانِ مجيد کښې] ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَهِیَ دُخَانٌ (پاره24،سورۃحٰمٓ السجدۃ:11) | مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: او اسمان لوګے وو. |

بيا په اوبو چې کوم زګ جوړ شوے وو، الله پاك هغه زګ خور کړو، د هغې نه ئې زمونږ د پاره زمکه جوړه کړه. دغه شان وړومبئ زمکه جوړه شوه. بيا اسمان جوړ شو، بيا د اسمانونو مکمل کيدلو نه پس زمکه خوره کړے شوه. الله پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ الْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا ﴿۳۰﴾ (پاره30،سورۃالنازعات:30) | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: او د هغې نه پس ئې زمکه خوره کړه. |

---

1...مواہب اللدنية، پهلا مقصد، جلد:1صفحه:35۔

حضرت عبدُ اللّٰہ بِن عباس رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُما نه روايت دے چې په کوم ځائے زمکه جوړ شوے وو، هغه مقام بل يو نه وو بلکه د زمکې هغه مبارکه ټکړه وه، چرته چې کعبه شريفه موجود ده. حضرت مجاهد رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د زمکې هغه ټکړه چرته چې خانه کعبه موجود ده، دا د زمکې پيدا کيدلو نه دوه زره کاله مخکښې جوړه کړے شوي ده، او د حضرت ابوهُريره رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ نه روايت دے چې لا زمکه نه وه جوړه شوي، د هغې نه دوه زره کاله مخکښې کعبه شريفه په اوبو کښې د يو ختې په شان وه، هلته به دوو فرښتو د اللّٰه پاك ذِکر کولو، بيا چې کله اللّٰه پاك د زمکې پيدا کولو اراده اوکړه نو د هُم هغه غونډئ نه ئې زمکه خوره کړه. (1)

معلومه شوه چې په زمکه وړومبے کور کيدل خو ډيره ورستۍ خبره ده، بلکه کعبه شريفه د ټولې زمکې اصل دے ځکه چې د زمکې دا ټکړه د ټولو نه وړومبۍ پيدا کړے شوي ده او د هُم دې نه ټوله زمکه خوره شوي ده، سُبْحٰنَ اللّٰه! دا دے د کعبے شريفې اوچت شان....!!!

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د کعبے شريفې عمارت کله جوړ کړے شو؟

اے عاشقانِ رسول! دا خو معلومه شوه چې د زمکې د ټولو نه وړومبۍ کومه ټکړه چې پيدا شوي ده هم هغه مقام دے چرته چې نن خانه کعبه ده، اوس سوال دا دے چې د کعبے شريفې عمارت د ټولو نه اوّل کله جوړ شوے دے؟ د دې سوال د جواب د پاره د ايمان نه ډك حکايت واورئ: منقول دي يو ځل حضرت اِمام زَينُ العابِدين رَضِیَ اللّٰہ

---

1 ...سبل الهدی، الباب الاول، جلد:1، صفحه:140تا141۔

عَنْہطواف كولو، يو كس د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہنه تپوس اوكړو خو حضرت اِمام زَينُ العابِدين رَضِیَ اللہُ عَنْہ د هغه طرف ته څه توجُّه ورنكړه، تر دې پورې چې د طواف اووه پيرې ئې پوره كړې، بيا هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہ حطيم ته تشريف راوړو او د ميزابِ رحمَت لاندې ئې دوه ركعته لمُونځ ادا كړو، بيا سيدها كښيناستلو او اوئې فرمائيل: هغه سوال كوونكے چرته دے؟ هغه كس حاضر كړے شو، اِمام زَينُ العابِدين رَضِیَ اللہُ عَنْہ اوفرمائيل: څه تپوس دِ كولو؟ عرض ئې اوكړو: جناب! د كعبے شريفې طواف د كله نه شروع شوے دے؟ طواف ولې شروع شو؟ او څنګه به كيدلو؟ اِمام زَينُ العابِدين رَضِیَ اللہُ عَنْہ د هغه كس نه تپوس اوكړو: ته د كوم ځائے اوسيدونكے ئې؟ هغه اُووئيل: د ملكِ شام يم، په ملكِ شام كښې د كوم ځائے؟ عرض ئې اوكړو: د بيتُ المُقَدَّس خوا ته نِزدې. اِمام زَينُ العابِدين رَضِیَ اللہُ عَنْہ ترينه بيا تپوس اوكړو: آيا تاسو تورات او انجيل لوستلي دي؟ هغه عرض اوكړو: آو! جناب. بيا اِمام زَينُ العابِدين رَضِیَ اللہُ عَنْہ د هغه د سوال په جواب كښې اوفرمائيل: اے شامي! زما جواب ياد كړه! ته به زما نه صرف حق خبره روايت كوے. د كعبے شريفې طواف داسې شروع شو چې كله اللّٰه پاك فرښتو ته اوفرمائيل چې زه په زمكه كښې خپل خليفه (يعني حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام) جوړوونكے يم، فرښتو داسې اظهار اوكړو چې مونږه د خلافت زيات حقدار يُو، په دې باندې اللّٰه پاك ارشاد اوفرمائيلو:

| | |
|---|---|
| قَالَ اِنِّیْۤ اَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾<br>(پارہ1،سورۃالبقرۃ:30) | **مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان:** اوئې فرمائيل: بيشكه ما ته هغه څه معلوم دي چې تاسو ته نه دي معلوم. |

د اللّٰه پاك دا ارشاد ئې چې واوريدلو نو فرښتو محسوسه كړه چې اللّٰه پاك زمونږ نه ناراضه دے، نو فرښتو د عرشِ اِلٰهي پناه واخسته، خپل مخونه ئې بره اوچت كړل،

عاجزي ئې اوکړه، اوئې ژړل او د اووه [7] کالو پورې ئې د عرش طواف کولو، آخر اللّٰه پاك په هغوئي رحم اوکړو او د عرش لاندې ئې د هغوئي د پاره د زَبَرجَدو يو کور جوړ کړو او فرښتو ته ئې اوفرمائيل: د دې کور طواف کوئ. فرښتو د هغه کور طواف کول شروع کړل، هغې ته **بَيْتُ المَعْمُور** وائي. بيا اللّٰه پاك فرښتے زمکې ته را اوليږلې او حکم ئې اوکړو چې په زمکه هم د **بَيْتُ المَعْمُور** په شان او د هُم دې همره يو کور جوړ کړئ. بيا چې کله دا کور جوړ شو نو اللّٰه پاك د زمکې مخلوق ته حکم اوکړو: څنګه چې آسمان والا د **بَيْتُ المَعْمُور** طواف کوي، تاسو د دې کور طواف کوئ...!! (1)

د يو روايت مطابق د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د پيدائش نه دوه زره کاله مخکښې د **بَيْتُ المَعْمُور** په برابري کښې فرښتو د کعبے شريفې عمارت جوړ کړے وو، دا په پيمائش کښې د **بَيْتُ المَعْمُور** همره وو. هغه وخت به د کعبے شريفې طواف صرف د زمکې فرښتو کولو خو حج به ئې د زمکو او اسمانونو ټولو فرښتو کولو. (2) مشهور مُفسّرِ قرآن، مفتی احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: هغه وخت کعبه شريفه د کاڼړو نه نه وه جوړه شوي بلکه د دې د عمارت سامان سره اسماني ياقوت وو. بيا حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام په دې تعمير کښې څه اضافه اوکړه او هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام به هم د دې طواف کولو او د هم دې طرف ته به ئې لمُونځ کولو، بيا د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام شهزاده حضرت شيث عَلَيۡهِ السَّلَام د دې لږ مرمت اوکړو، بيا د حضرت نوح عَلَيۡهِ السَّلَام د زمانے پورې کعبه شريفه هم دغه شان وه. بيا چه کله طوفانِ نوح راغے، هغه وخت هغه اسماني عمارت د اسمان ته اوچت کړے شو، د هغې صرف يو ياقوت پاتې شو، کوم ته چې **حَجَرِ اَسۡوَد** وائي او د

---

1 ...اخبارِ مکه للازرقی، ذکر بناء الملائکة الکعبة، صفحه: 27تا29۔

2 ...تفسير خازن، پاره: 4، آلِ عمران، تحت الآية: 96، جلد: 1، صفحه: 271۔

www.dawateislami.net

زمکې عمارت را اولويدلو او د سپين خټې په شکل کښې پاتې شو، بيا حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د الله په حکم بيا د کعبے شريفې تعمير اوکړو (1)

د دې رواياتو نه معلومه شوه چې د زمکې د پيدا کيدلو نه دوه زره کاله مخکښې د زمکې دا ټکړه پيدا کړے شوې وه چرته چې خانه کعبه ده او د انسان د پيدا کيدو نه دوه زره کاله مخکښې د خانه کعبے عمارت جوړ شوے وو او فرښتو به د دې حج کولو.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د طوفانِ نوح نه پس د کعبے شريفې د تعمير بيان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت نوح عَلَيۡهِ السَّلَام په زمانه کښې چې کله سخت طوفان راغے، ټوله دُنيا ډوبه شوه او د يو قول مطابق صرف 80 کسان کوم چې د حضرت نوح عَلَيۡهِ السَّلَام سره په کشتۍ کښې سواره وو، صرف هغه پاتې شو، هغه وخت کعبه شريفه اسمان طرف ته اوچته کړے شوه، راځئ چې اوس تاريخي حوالے سره اوګورو چې د طوفانِ نُوح نه پس اوَّل کعبه شريفه جوړه شوې وه که مسجِدِ اقصٰی.

هسې خو د مسجِدِ اقصٰی د تعمير مُتَعَلِّق هم مختلف روايات شته، مثلاً د يو روايت مطابق فرښتو چې کله کعبه شريفه جوړه کړه نو د هغې نه څه موده پس د الله په حکم فرښتو د مَسجِدِ اقصٰی وړومبے عمارت جوړ کړو، او د يو روايت مطابق د ټولو نه اوَّل حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام مسجِدِ اقصٰی تعمير کړے وو، البته د طوفانِ نُوح نه پس کعبه شريفه اوَّل جوړه شوې وه که مسجِدِ اقصٰی، په دې حواله سره يو روايت دا دے چې د طوفانِ نُوح نه پس د ټولو نه اوَّل د مسجِدِ اقصٰی بنياد حضرت يعقوب عَلَيۡهِ السَّلَام

---

1 ...تفسیر نعیمی، پارہ:4، آل عمران، تحت الآیۃ96، جلد:4، صفحہ:32، خلاصۃً۔

ایښودے وو، یوه ورځ حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام د خپل ماما سره روان وو، په لاره کښې یو ځائے شپه راغله، حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام یو کاڼړي ته ډډه اولګوله او آرام فرما شو، هغه وخت په خوب کښې په هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام باندې وحي نازل شوه او په دغه خوب کښې الله پاك هغوئي ته د **بَیْتُ الْمُقَدَّس** (یعنې مسجدِ اقصٰی) جوړولو حکم اوکړو. **(1)**

اے عاشقانِ رسول! د دې روایت نه معلومه شوه چې د طوفانِ نُوح نه پس د مسجِدِ اقصٰی اوَّل تعمیر حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام کړے وو او حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام لا پیدا شوے هم نه وو چې د هغوئي عِزَّت مآب نیکه حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام د مکّے مُکَرَّمے او د خانه کعبے شریفې د آباد کارئ انتظام شروع کړے وو.

مشهوره واقعه ده، په بُخاري شریف کښې دي، د هغې خلاصه څه داسې ده چې د حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام اولاد نه وو، هغوئي د الله پاك په بارګاه کښې دُعا اوکړه: اے الله پاکه! ما ته نیك ځوئے را عطا کړې. د حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام دُعا قبوله شوه، څه موده پس الله پاك حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام ته ښکلے، نیکو کاره او بااخلاقه ځوئے ورکړو چې د هغوئي نوم ئې "اسماعیل"(عَلَیْہِ السَّلَام) کیښودو.

د ماشوم ځوئے د پیدائش یو څو ورځې تیرې شوي وے چې الله پاك حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام ته حکم اوکړو: اے ابراهیم! خپل ځوئے اسماعیل او د دوئي مور هاجره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا په مکه مکرمه کښې پریږدوه.

اَللّٰهُ اکبَر! د ځان نه زیات خوږ یو ماشوم ځوئے او هغه هم د څو کالو نه پس پیدا شوے وو، لا د پئیو ښنبلو په عمر کښې وو چې د جدائې حکم اوشو، د یو پلار زړه

1…تاریخ طبری، ذکر اسحاق بن ابراہیم، جلد:1، صفحہ:191۔

دا جدائي څنګه قبلولے شي؟ خو قربان شم ! د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د اِطاعت د جذبے نه! حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د خپل مالك پروردګار حکم اومنلو. په دې حکم باندې د عمل کولو د پاره د ملكِ شام نه صرف د درې کسانو يوه قافله مکّے مُکَرَّمے طرف ته روانه شوه، په دغه نوراني قافله کښې يو حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام، يو وړوکے شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام، او د هغوئي والده حضرت هاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا وه د ځائے ښودلو د پاره ورسره حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام هم وو.

شپه او ورځ په سفر کولو کولو دا نوراني قافِله آخر يوه ورځ د غرونو فراخه لمَن ته را اورسيدله، دلته د لرې لرې پورې آبادي نه وه، نه څه چينه، نه اوبه او نه د ژوند تيرولو نور سامان وو، د کعبے شريفې زمکه هغه وخت د يو ختې په مثل اوچته زمکه وه، دلته چې را اورسيدل نو جبريل عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: اے ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام! بس دا مقام دے. حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د سورلئ نه کوز شو، خپل خوږ شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام او د هغوئي والده صاحبه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا ئې د هغه ختې خوا ته کوز کړل، لږې کجورې او لږې اوبه ئې ورته ورکړې او بيرته ترينه روان شو. حضرت هاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا عرض اوکړو: اے د الله پاك نبـي (عَلَيْهِ السَّلَام)! مونږه دلته په غير آباد ځائے کښې د چا په اسره پريږدې؟ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خاموشه پاتې شو. څه جواب ئې ورنکړو، حضرت هاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا يو څو ځله تپوس اوکړو خو حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خاموشه وو، آخر ئې عرض اوکړو: آيا الله پاك تاسو ته د دې حکم کړے دے؟ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل: آو! د الله پاك حکم دے. دا ئې چې واوريدل نو هغه نيکې بي بي حضرت هاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا د بےمثاله تَوَکُّل او پوخ ايمان ثبوت ورکړو او عرض ئې اوکړو: نو بيا خو په خير سره لاړ شئ! الله پاك به مونږه دلته نه ضائع کوي.

بيا حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام واپس شو، چې لږ لرې لاړلو نو حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام

دواړه لاسونه اوچت کړل او بیتُ الله شریف ته ئې مخ کړو اودُعا ئې اوکړه:

رَبَّنَاۤ اِنِّیۡۤ اَسۡكَنۡتُ مِنۡ ذُرِّیَّتِیۡ بِوَادٍ غَیۡرِ ذِیۡ زَرۡعٍ عِنۡدَ بَیۡتِكَ الۡمُحَرَّمِ ۙ رَبَّنَا لِیُقِیۡمُوا الصَّلٰوةَ فَاجۡعَلۡ اَفۡـِٕدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهۡوِیۡۤ اِلَیۡهِمۡ وَارۡزُقۡهُمۡ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمۡ یَشۡكُرُوۡنَ ﴿۳۷﴾

(پارہ13، سورۃ ابراھیم:37)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: اے زمونږه ربه! ما خپل اولاد ستا د عِزَّت والا کور خوا ته په داسې میدان کښې دیره کړلو چې پکښې فصل نشته. اے زمونږه ربه! د پاره د دې چې هغوئي لمُونځ قائم اُوساتي نو ته د خلقو زړونه د هغوئي طرف ته را اوګرځوې او هغوئي ته د میوو نه رزق ورکړې چې هغوئي ستا شکر ګزاره جوړ شي.

چې کله حضرت ابراهیم عَلَیۡهِ السَّلَام بیرته تشریف یوړلو، حضرت هاجره رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡهَا سره اوبه ختمې شوے نو د اوبو د لټون د پاره ئې د **صَفَا** او **مَروَه** نومې دوو غونډو اووه چکرې اولګولې، آخر د حضرت اسماعیل عَلَیۡهِ السَّلَام د ښپو مبارکو یا د حضرت جبریل عَلَیۡهِ السَّلَام د وَزَر وهلو سره د زَم زَم چینه ښکاره شوه، څه موده پس د قبیله جُرهم خلق هم راغلل او دلته آباد شو، دغسې د حضرت ابراهیم عَلَیۡهِ السَّلَام غوښتلې شوي دُعا قبلیدل شروع شوه.

بیا چې کله حضرت اسماعیل عَلَیۡهِ السَّلَام د اووه یا دیارلسو کالو عمر ته اورسیدلو نو حضرت ابراهیم عَلَیۡهِ السَّلَام ته د الله له طرفه د شهزاده حضرت اسماعیل عَلَیۡهِ السَّلَام د قربانۍ پیش کولو حکم اوشو، دا ځل هم حضرت ابراهیم عَلَیۡهِ السَّلَام د خپل ربّ حکم اومنلو، مکّے مُکَرَّمے ته ئې تشریف راوړلو او د خپل ځوئے قرباني پیش کولو ته تیار شو او د خپل ځوئے حضرت اسماعیل عَلَیۡهِ السَّلَام ذبح کولو د پاره ئې د هغوئي په مرئ چاړه کیښودله نو الله پاك د جنَّت نه ګډ را اولیږلو، هغه د حضرت اسماعیل عَلَیۡهِ السَّلَام په فدیه

کښې قربان کړے شو، د دې نه پس الله پاك حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام ته د کعبے شریفې د عمارت جوړولو حکم اوکړو، حضرت ابراهیم او حضرت اسماعیل عَلَیْهِمَا السَّلَام دواړو کعبه شریفه بیا تعمیر کړه. (1)

حضرت ابوذر غِفاري رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: ما یوه ورځ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په زمکه د ټولو نه اوّل کوم جمات جوړ شوے دے؟ ارشاد ئې اوفرمائیلو: مسجِدِ حرام (یعنې خانه کعبه شریفه) ما بیا عرض اوکړو: د دې نه پس کوم جمات جوړ شوے دے؟ ارشاد ئې اوفرمائیلو: مسجِدِ اقصٰی. ما عرض اوکړو: د دې دواړو د جوړولو په مینځ کښې خومره موده ده؟ اوئې فرمائیل: 40 کاله. (2)

یعنې خانه کعبه شریفه د مسجِدِ اقصٰی نه 40 کاله مخکښې جوړه شوي ده، علماء فرمائي: د دې حدیثِ پاك مراد دا دے چې کله حضرت یعقوب عَلَیْهِ السَّلَام د مسجِدِ اقصٰی بنیاد کېښودلو نو د هغې نه 40 کاله مخکښې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام کعبه شریفه جوړه کړې وه. (3)

معلومه شوه چې د طوفانِ نُوح نه پس چې اوّل کوم جمات جوړ شوے دے هغه خانه کعبه شریفه ده، دا دے د کعبے شریفې د اَوّل کېدلو اوچت شان...!! اوس اوس دې ټولو رِوایتونو باندې غور کولو سره سره وارئ! الله پاك د خانه کعبے شریفې په شان کښې فرمائي:

---

1…بخاری، کتاب:احادیث الانبیاء، صفحه:858تا860، حدیث:3364خلاصةً۔

2…مسلم، کتاب:المساجد و مواضع الصلاة، صفحه:194، حدیث:520۔

3…انس الجلیل، جلد:1، صفحه:71۔

اِنَّ اَوَّلَ بَیْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِیْ بِبَكَّةَ
(پارہ4، سورۃ آلِ عمران:96)

مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: بیشکه د ټولو نه وړومبے کور کوم چې د خلقو د عبادت د پاره جوړ شوے دے هغه دے کوم چې په مکه کښې دے.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږه په شروع کښې اوریدلي وو چې غیرمسلمو په مسلمانانو باندې اعتراض کړے وو چې **بَیْتُ الْمُقَدَّس** په ملكِ شام کښې دے او د شام زمکه برکت والا ده، لِهٰذا **بَیْتُ الْمُقَدَّس** د کعبے شریفې نه افضل دے، الله پاك ارشاد اوفرمائیلو: د ټولو نه وړومبے کور کوم چې د خلقو د عبادت د پاره جوړ شوے وو هغه دے کوم چې په **مکه** کښې دے.

معلومه شوه **بَیْتُ الْمُقَدَّس** ډیر فضیلت والا دے، دا په ملكِ شام کښې دے او ملكِ شام ډیر د برکت مقام دے خو کعبه شریفه په مکه مکرمه کښې ده او مکه مکرمه د هغه دوو ښارونو نه یو [ښار] دے کوم چې په ټولو ښارونو کښې د ټولو نه زیات فضیلت والا دي، هغه دوه ښارونه کوم دي؟ یو **مَدِیْنَه مُنَوَّرَه** او دویم **مَکَّه مُکَرَّمَه**.

## د مَكّے مُكَرَّمَے فضائل

**مَکَّه مُکَرَّمَه** هغه ښار دے کوم ته چې اُمُّ القُرٰی (یعنې د ټولو ښارونو اصل) وائي. **مَکَّه مُکَرَّمَه** هغه ښار دے چې لا زمکه نه وه جوړه شوي، د دې نه دوه زره کاله مخکښې به فرښتو د مکّے مُکَرَّمے په زمکه تسبیح کوله د انسانانو پیدا کیدلو نه دوه زره کاله مخکښې به فرښتو د مکّے مُکَرَّمے حج کولو **مَکَّه مُکَرَّمَه** برکت والا ده **مَکَّه مُکَرَّمَه** امن والا ده **مَکَّه مُکَرَّمَه** هغه مبارك ښار دے کوم چې حضرت

ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام اباد كړے وو مَكَّه مُكَرَّمَه هغه مبارك ښار دے چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دې طرف ته د خلقو دزړونو مائله كيدلو دُعا كړې وه مَكَّه مُكَرَّمَه هغه مبارك ښار دے چې د دې ځائے د اوسيدونكو د پاره حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د رزق دُعا كړې وه او الله پاك د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دا دواړه دُعاګانې قبولې كړې دي مَكَّه مُكَرَّمَه هغه مبارك ښار دے چې د دُنيا مسلمانان دې ته راتللو د پاره بے قراره اوسي او زړونه ئې دې طرف ته مائله اوسي مَكَّه مُكَرَّمَه زمونږ د خوږ آقا سَيِّدُ الانبياء صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيدائش مقام دے---------- مَكَّه مُكَرَّمَه هغه مبارك ښار دے چرته چې زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل ژوند مبارك 53 كاله تير كړي دي. مَكَّه مُكَرَّمَه هغه مبارك، مُقَدَّس ښار دے چې الله پاك د دې ښار قسمونه خوړلي دي. په يو مقام كښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿۱﴾ وَ اَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿۲﴾ (پاره30، سورة البلد:1-2) | مفهوم ترجمه كنزُالعِرفان: زما دِ په دې ښار قسم وي چې تاسو پكښې تشريف فرما ئې. |

## كعبه شريفه د بركت او هدايت ځائے دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د كعبے شريفې دويم او دريم وَصف بيانولو كښې الله پاك فرمائي:

| | |
|---|---|
| مُبٰرَكًا وَّ هُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۶﴾ (پاره4، سورة آلِ عمران:96) | مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: بركت والا دے او د ټول جهان والؤ د پاره هدايت دے. |

علامه محمود آلوسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت لاندې فرمائي: د آيت معنٰى دا ده چې كعبه شريفه ډيره نيكئ والا ده، دلته د يوے نيكئ ثواب د يو لاك برابر دے. حضرت اِبنِ

عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا فرمائي: څوك چې د كعبے شريفې حج اوكړي، د دې طواف اوكړي، دلته اعتكاف اوكړي، د هغه ګناه به اوبخښلے شي.

علامه محمود آلوسي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نور فرمائي: د كعبے شريفې بابركته كيدلو يو مطلب دا هم دے چې دلته هر وخت عبادت كيږي. بيا د دې دليل وركوي، فرمائي: زمونږه زمكه كُروِى (يعنې د هګئ په شكل كښې) ده، په دې وجه په دُنيا كښې چې كله په يو ملك كښې د سحر وخت كيږي نو په بل ملك كښې هغه وخت د ماسپخين وخت وي، چرته مازديګر وي، نو چرته ماښام او چرته ماسخُتن وي، داسې هر وخت په دُنيا كښې د يو لمُونځ وخت وي، داسې يو وخت خالي نه وي چې خانه كعبے شريفې طرف ته نه مخ كيږي او لمُونځ نه ادا كيږي. (1) يعنې په شپه او ورځ كښې هر وخت مسلمانان خانه كعبے طرف ته مخ كوي او لمُونځ ادا كوي.

مُفسّرِ قرآن، مفتى احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: كعبه شريفه د انسانانو، پيريانو، او فرښتو هم قبله ده، په دې وجه ئې دې ته د عَالَمِينو (يعنې د ټولو جهانونو) هدايت وئيلے دے، او دا انسانانو ته د جنت هدايت وركوي، په دې وجه ورته هُدًى (يعنې هدايت وركولو والا) وئيلے شوي دي.(2)

منقول دي چې كعبه شريفه به په ورځ د قيامت د ناوي په شان اوچته كړے شي كومو خلقو چې د دې حج كړے وي هغوئي به د دې د پردو سره زوړند وي او د دې نه به چاپيره طواف كوي تر دې چې كعبه شريفه به جنت ته داخله شي نو هغوئي به هم د دې سره جنت ته داخل شي. (3)

---

1 ...روح المعانى، پاره:4، آلِ عمران، تحت الآية96، جلد:2، صفحه:303۔

2 ...تفسير نعيمى، پاره:4، آل عمران، تحت الآية96، جلد:4، صفحه:31۔

3 ...احياء العلوم، حج كا بيان، جلد:1، صفحه:733۔

تصدق ہورہے ہیں لاکھوں بندے گرد پھر پھر کر | طوافِ خانہ کعبہ عجب دلچسپ منظر ہے(1)

# په کعبه شريفه کښې واضحه نښې

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د کعبې شريفې څلورم وَصف کوم چې الله پاك په قرآنِ کريم کښې بيان کړے دے هغه دا دے:

| | |
|---|---|
| فِيْهِ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِيْمَ ۚ (پارہ4،سورۃ آلِ عمران:97) | مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: په دې کښې ښکاره نښې دي د ابراهيم د اودريدلو ځائے. |

په تفسيرِ نعيمي کښې د دې آيت لاندې دي: د دې نه مراد دا نه دي چې صرف په کعبه شريفه کښې د الله نښې دي بلکه مراد دا دے چې ټخپله کعبه شريفه کښې، د دې خوا و شا په مسجدِ حرام شريف کښې بلکه په ټوله مکه مکرمه او حُدودِ حرم کښې د الله پاك واضحه نښې دي. (2)

اے عاشقانِ رسول! په کعبه شريفه، مسجدِ حرام او مکه مکرمه کښې د الله پاک د واضحه نښو مُتَعَلِّق مُفَسِّرين فرمائي: ۞ د کعبې شريفې خوا ته مقامِ ابراهيم دے، "مقامِ ابراهيم" يو جنتي کاڼړے دے او دا هغه مبارك کاڼړے چې په دې باندې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام اودريدلے دے او د کعبې شريفې ديوالونه ئې اوچت کړي دي، څومره به چې ديوالونه اوچتيدل، دا کاڼړے به هم اوچتيدلو او ماښام به چې کله حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام راکوزيدلو نو دا کاڼړے به ښکته کيدلو، "مقامِ ابراهيم" هغه کاڼړے دے چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام په دې باندې مبارك قدمونه کيښودل نو دا

---

1 ...ذوقِ نعت، صفحه:253۔

2 ...تفسیر نعیمی، پارہ:4، آل عمران، تحت الآیة97، جلد:4، صفحه:37۔

دومره نرم شو چې د هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام د قدمونو نښې پکښې جوړې شوے او دزرګونو کالو تیریدلو باوُجود تر اوسه پورې [پکښې هغه نښې] موجودې دي. الله پاك دې کاڼړي ته دومره عظمت ورکړے دے چې د ټولو حاجیانو سرونه ئې دې طرف ته ښکته کړل. فرمائي(1):

| | |
| --- | --- |
| وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ (پارہ1، سورۃالبقرۃ:125) | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: (اے مسلمانانو!) تاسو د ابراهیم د اودریدلو ځائے د لمُونځ مقام جوړ کړئ. |

❁ **کعبه شریفه** هغه مبارك مقام دے چې د دې خوا ته د زَم زَم شریف کوهے دے، زَم زَم هغه مبارکې اوبه دي چې د هر هغه مقصد د پاره دي د کوم مقصد د پاره چې اوڅښلے شي. (2) زَم زَم شریف که د شِفا د پاره اوڅښلے شي نو الله پاك شِفا ورکوي، که د تندې ماتیدلو د پاره اوڅښلے شي نو تَنده ختموي، که د لوږې ختمولو د پاره اوڅښلے شي نو لوږه ختموي. زَم زَم هغه مبارکې اوبه دي چې په ولاړه مخ په قبله څښلے کیږي، د دې د څښلو نه پس چې کومه دُعا اوغوښتلے شي قبلیږي.

❁ د کعبے شریفې خوا ته **حَجرِ اَسْوَد** دے، **حَجرِ اَسْوَد** هم جَنَّتي کاڼړے دے، د دې ښکلولو سره ګناهونه مُعاف کیږي، د قیامت په ورځ به د دې **حَجرِ اَسْوَد** دوه سترګې وي چې لیدل به کوي، ژبه به ئې وي چې وئیل به کوي او د خپل استلام کوونکو په حق کښې به ګواهي ورکوي. (3)

❁ د کعبے شریفې سره مطاف دے، دا هغه مقام دے چرته چې د کعبے شریفې

---

1 …تفسیر نعیمی، پارہ:4، آل عمران، تحت الآیۃ97، جلد:4، صفحہ:37۔

2 …مُسْتَدْرَک، کتابُ: الْمَنَاسک، جلد:2، صفحہ:132، حدیث:1782۔

3 …ترمذی، کتاب: الحج، باب: ماجاء فی الحجر الاسود، صفحہ:254، حدیث:961۔

طواف کيږي، په دې ځائے کښې د څلور سوو انبيائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلام قبرونه دي. ۞ د کعبے شريفې سره په حطيمِ پاك کښې سنګِ اسماعيل يعني د حضرت اسماعيل عَلَیۡهِ السَّلام او د هغوئې د والده حضرت هاجره رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡها قبرونه دي، ۞ هُم دې کعبے شريفې ته نِزدې صَفَا او مَروَه دوه غونډئ دي، ۞ د دې کعبے خوا ته د الله پاك د آخري نبـي مکي مدَني مُصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيدائش مقام دے، نن صبا په دغه ځائے لائبريري قائمه ده. ۞ د دې کعبے سره نِزدې مِنٰى، مُزدَلفه او عرفات په شان مبارك مقامات دي، ۞ دا کعبه شريفه ده چې د دې د عِزَّت په وجه مرغۍ په دې د پاسه نه الوَځي، ۞ دا هغه کعبه شريفه ده چې کله يوه مرغۍ بيماره شي او په دې د پاسه تيره شي نو شِفا مومي. ۞ هم د دې کعبے شريفې برکت دے چې په مکه مکرمه کښې د فصل نه کيدلو باوجود دلته قحط نه راځي، خلق د لوږې نه مري، ۞ هم د دې کعبے شريفې برکت دے چې هر کال په لکونو خلق حج له راځي، د دې باوُجود نه خوراك کميږي او نه اوبه کميږي. د دې نه علاوه د قدرت نورې نښې هم دي کومې چې په کعبه شريفه کښې، مسجِدِ حرام او مکه مکرمه کښې موجودې دي. (1)

## کعبه شريفه د اَمَن مقام دے

اے عاشقانِ رسول! د کعبے شريفې پينځم مبارك وَصف کوم چې الله پاك بيان کړے دے هغه دا دے چې:

| مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: او څوك چې دې ته داخل شو په اَمَن کښې شو. | وَمَنۡ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ (پاره4، سورهٔ اٰل عمران:97) |
|---|---|

1 ...تفسیر نعیمی، پارہ:4، آل عمران، تحت الآیة97، جلد:4، صفحه:37۔

**سُبۡحٰنَ الله!** څومره ښکلے شان دے د کعبے شریفې...!! الله پاك دا او ټول حُدودِ حرم د اَمَن مقام جوړ کړے دے. اوس اوَّل حدودِ حرم اوپیژنئ!

شیخِ طریقت، اَمِیرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الیاس عطّار قادِری دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه فرمائي: عام خلق ''مسجِدِ حرام'' ته ''حرم شریف'' وائي. په دې کښې څه شك نشته چې مسجدِ حرام په حرم شریف کښې داخل دے خو حرم شریف د مکّے مُکَرَّمے سره، د دې خواو شاه په میلونو خور دے او هر طرف ته د دې حدونه جوړ شوي دي، د یو تاریخ دان د نوي پیمائش په حساب د حرم د رقبے دائره 127 کلومیټر ده او د حرم شریف کل رقبه 550 مربع کلومیټر ده. (1)

دا ټوله علاقه چې په دې کښې ځنګل هم شامِل دے، په دې کښې دننه شنه بوټي ویستل حرام دي، د دې ونې کټ کول حرام دي، دلته ځناورو ته تکلیف رسَوَل حرام دي تر دې پورې چې که سخته ګرمي وي او یوه وَنه وي او د هغې په سَوري کښې هوسئ ناسته وي نو د خپلې ناستې د پاره هوسئ پاڅول جائز نه دي. د مکّے مُکَرَّمے کونترې اَلوَځَوَل، ویرول یا په بله څه طریقه هغوئي ته تکلیف رسَوَل منع دي. (2) د دې نه اندازه اولګوئ! چې کله د مکّے مُکَرَّمے د ځناورو دومره ادب دے نو هلته به د مسلمانانوانسانانو څومره ادب وي...؟ په تفسیر صراطُ الجنان کښې دي: که څوك قتل و جُرم اوکړي او د حرم شریف په حدودو کښې داخل شو نو هلته به نه هغه قتل کیږي او نه به پرې حد (یعني شرعي سزا) قائمیږي. دویم خلیفه اَمِیرُ المُؤمِـنِین حضرت سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡه فرمائي: که زه د خپل والد خطاب قاتل هم په

---

1 ...**رفیق الحرمین**، **صفحه**:89۔

2 ...**بهارِ شریعت**، **حصه**:6، **جلد**:1، **صفحه**:10861085۔

حرم شریف کښې اووینم نو لاس به ور نه وړم تر دې چې د حُدُودِ حرم نه بهر راشي. (1)

## د کعبې شریف حج کیږي

د کعبې شریفې شپږم وَصف چې کوم الله پاك په پاره 4، سورۂ آلِ عمران آیت:97 کښې بیان کړے دے، هغه په اصل کښې د قیامته پورې راتلونکو مسلمانانو د پاره یو حکم دے، الله پاك ارشاد فرمائي:

وَ لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ وَ مَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۷﴾

(پارہ4،سورۃ آلِ عمران:97)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: او د الله د پاره په خلقو باندې د دې کور حج کول فرض دي څوك چې دې ته د رسیدلو طاقت لري او څوك چې انکار اوکړي نو الله د ټول جهان نه بےپرواه دے.

سُبْحٰنَ الله! دا هم د کعبې شریفې خصوصیت دے چې په ټوله زمکه باندې چرته حج نه کیږي، غیر مسلمو په مسلمانانو باندې اعتراض کولو کښې اووئیل چې بَیتُ المُقَدَّس د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلام قبله ده، الله پاك په دې آیت کښې اوښودل چې که بَیتُ المُقَدَّس د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلام قبله ده نو یقیناً دا د بَیتُ المُقَدَّس فضیلت دے خو ۞ کعبه شریفه هغه مُقَدَّس مقام دے چې د زمکې د پیدائش نه واخله تر قیامته پورې به صرف د خانه کعبې طواف کیږي، ۞ دا هغه مقام دے چې دلته به طواف کیدلو، طواف کیږي، او همیشه به کیږي، ۞ دا هغه مقام دے چرته به چې حج

---

1 ...تفسیر صراطُ الجنان، پارہ:4، سورۂ آلِ عمران، زیرِ آیت:97، جلد:2، صفحه:16۔

کيدلو، حج کيبري او تر قيامته پورې به حج کيبري، دا خُصُوصيت په دُنيا کښې بل يو مقام ته نه حاصل دے او نه به حاصل شي، ۞ کعبه شريفه هغه مُقَدَّس مقام دے چې انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام به هم د دې حج کولو ۞ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام په بَرِّصَغِير کښې اوسيدلو، د يو روايت مطابق آدم عَلَيْهِ السَّلَام د دې ځائے نه پياده تشريف وړے دے او اويا حجونه ئې ادا کړي دي بلکه د حضرت اِبنِ عباس په روايت کښې دي: حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د بَرِّصَغِير نه پياده زر ځله مکے مُکَرَّمے ته تشريف وړے دے، په دې کښې درې سوه ځله آدم عَلَيْهِ السَّلَام حج ادا کړے دے او ووه سوه ځله ئې عمرے ادا کړي دي، ۞ حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام هم حج ادا کړے وو ۞ حضرت هُود، حضرت صالِح او حضرت شُعيب عَلَيْهِمُ السَّلَام هم حج ادا کړے وو ۞ په حديثِ پاك کښې دي: هغه ټول انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام د کومو په قومونو چې عذاب راغلے وو، چې کله به د هغوئي قومونه هلاك شو نو هغوئي به مکے مُکَرَّمے ته تشريف راوړلو او د وفات د وخته پورې به دلته په عبادت کښې مصروف اوسيدلو ۞ د حضرت مجاهد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے چې حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام په سُور اوښ سور حج له تشريف راوړے وو، موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام د کعبے شريفې طواف اوکړو، د صَفَا مروَه په مينځ کښې ئې سعي اوکړه، دلته هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د اسمان نه يو اواز واوريدلو: **لَبَّيْكَ عَبْدِیْ وَ اَنَا مَعَكَ** اے زما بنده **لَبَّيْك**! زه ستا سره يم. د دې په اوريدلو حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام سجده اوکړه. ۞ د حضرت عبدُ الله بن زُبَير رَضِیَ اللہُ عَنْهُمَا نه روايت دے چې بنـي اسرائيلو طرف ته را ليږلو شوو زرو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام د حج د پاره مکے مُکَرَّمے ته تشريف راوړے وو او دې ټولو حضراتو

به د ”ذُو طُوٰی“ په مقام کښې خپل نعلين شريف (يعني پيزار مبارك) ويستل او بيا به مکّے مُکَرَّمے ته داخليدل. (1)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِيْـب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حج فضائل

اے عاشقانِ رَسُول! هر هغه مسلمان چې استطاعت لري يعني چې څوک مکّے مُکَرَّمے ته د رسيدلو او بيرته د راتللو خرڅ لري او په خپل ځان پسې د خپل کور د کسانو د پاره هُم مناسب انتظامات کولے شي او لار کښې هُم امن وي او نور شرائط هُم پوره وي نو په هغه حج فرض دے، په هغه لازِمه ده چې هغه حج له لاړ شي او که په چا حج فرض نه وي يا ئې فرض حج ادا کړے وي نو بيا هُم پکار ده چې نفل حج اوکړي ځکه چې ”حج کول د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام“ سُنَّت دي۔

مکِّـی مَدَنـی تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: حج کوونکے به د خپل کور د کسانو نه د 400 (مسلمانانو) شفاعت کوي او د ګناهونو نه به داسې پاک شي څنګه چې د خپل پيدائش په ورځ وو۔ (2) په يو بل حديث شريف کښې دي: حج کوئ! ځکه چې حج ګناهونه داسې اُووِينځي څنګه چې اوبه خِيرے اُووِينځي۔ (3) حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې سرکارِ عالِي وقار، مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چې کله تاسو يو حاجي سره ملاقات اوکړئ نو هغه سره سلام او مُصافَحه اوکړئ او هغه ته

---

1 …سُبل الهدیٰ، جلد:1، صفحه:211209 خُلاصةً۔

2 …کَنزُالعُمال، کتاب: حج وعمره، جز: 5، جلد: 3، صفحه: 7، حديث: 11837۔

3 …مُعجم اَوسط، جلد: 3، صفحه: 416، حديث: 4997۔

اُووائے چې هغه خپل كور ته داخليدلو نه مخكښې ستاسو د پاره د بخښنې دُعا اوكړي ځكه چې د هغه بخښنه شوي ده۔ **(1)**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د ذِيقعده شريف مبارکه مياشت جاري ده، دا هغه مبارکه مياشت ده چې په دې مبارکه مياشت کښې د حج قافلے رواني وي، د کومو عاشقانو نصيب چې اوځليږي هغه حج ته د تللو په تيارئ کښې مصروفه وي او د کومو عاجزانو چې د تللو هيڅ سبب نه کيږي هغوئي د مکے او مدينے په يادونو کښې ژړيږي او په بارګاهِ اِلٰهي کښې په ژړا ژړا خپل عرض پيش کوي چې،

| بڑا حج پہ آنے کو جی چاہتا ہے | بُلاوا اَب آئے گا کب یااِلٰہی! |
|---|---|
| میں مکے میں آؤں' مدینے میں آؤں | بنا کوئی ایسا سبب یااِلٰہی! |

يعني: يا **الله** پاکه! حج کولو ته مې ډير زړه کيږي، ما به خپل دَر ته کله غواړې- يا **الله**! پاکه زما څه داسې سبب اوکړې چې مکے او مدينے ته حاضر شم-

تقريباً هر کال لکونه مسلمانان د حج سعادت حاصلوي خو آه! چې د کله نه کرونا وائرس راغلے دے، د دې په سبب چې څنګه د ژوند نور مُعامِلات مُتأَثِّره شوي دي دغسې د حج په عظيم عبادت باندې هُم د دې ډير زيات اثر شوے دے، تير کال هُم حج شوے خو وو خو د مخکښې په شان لکونه مسلمانان مکّے مُکَرَّمے ته نه وو راغلي، دا ځل به هُم د آخري اطلاعاتو مطابق لږو خلقو ته مکّے مُکَرَّمے ته د حاضرئ اجازت مِلاويږي- **الله** پاک دِ د خيره سره زر تر زره مونږ ته د دې آفت نه نجات راکړي، الله پاک دِ دا وائرس د ټولې دُنيا نه ختم کړي او کاش چې بيا په زور و شور سره د حج

---

1...مشکوٰۃ المصابیح، کتاب: المناسِک، فصل: ثالث، جزء: 1، جلد: 1، صفحہ: 472، حدیث: 2539۔

سلسله شروع شي، بهر حال که مونږه حج ته نه شو تللے نو بیا هُم په زړه کښې د حج خواهش ضرور ساتل پکار دي، اګر که حج ته د تللو اسباب مو جوړ نه شي خو بیا هُم پکار ده چې زمونږ په زړونو کښې د دې خواهش موجود اوسي، او په دې خواهش پوره کیدو پسې مو په سترګو کښې پکار ده چې اوښکې خو راشي، که ممکنه وي نو د دې د پاره د تَهَجُّد په وخت کښې، په تنهائي کښې د الله پاک په بارګاه کښې دُعا کول پکار دي-

الله پاک دِ مونږ ټولو ته د مکے او مدینے عشق رانصیب کړي- اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دولسو دیني کارونو کښې یو دیني کار: د سحر لـمانځه ته راپاخول

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په خپلو زړونو کښې د مکے او مدینے عشق راپیدا کولو، نیک او لـمونځ ګُزاره جوړیدلو او د نیکو ډک ژوند تیرولو د پاره د دعوتِ اسلامي دِیني ماحول کښې شامل شئ او دولسو دیني کارونو کښې ډیره ډیره حِصَّه واخلئ! اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ! په ژوند کښې به مو د نیکو سپرلے راشي او د الله پاک د رضا والا کارونو موقعې به درنصیب کیږي-

په دولسو دیني کارونو کښې یو کار دے: د سحر لـمانځه ته راپاخول-

## د حج سعادت ورنصیب شو

د پنجاب د علاقے اِلٰه آباد (ضلع قصور) اوسیدونکي یو اِسلامي ورور د بیان خلاصه ده چې: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زه د دعوتِ اسلامي دِیني ماحول کښې شامل ووم خو دِیني کارونو کښې به را نه سستي کیدله، یوه ورځ یو ذِمَّه دار اِسلامي ورور ما ته د دِیني کارونو

او خاص طور ”سحر لـمانځه ته د مسلمانانو راپاخولو“ والا ديني کار ډير ترغيب راکړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زما ذِهن جوړ شو او ما صبا له په هغې عمل شروع کړو- ما چې په دې دِيني کار باندې عمل شروع کړو نو په ما باندې د اللّٰه پاک او د هغه د حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم اوشو، د قسمت ستورے مې اوځليدو او په هُم هغه کال را ته د مکے او مدينے د حاضرئ سعادت نصيب شو-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## حج و عُمره موبائل ايپلي کيشن

اے عاشقانِ رَسُول! دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجئ په ذريعه هُم د عِلمِ دِين عام کولو کوشش کوي، په دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له طرفه مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري شوي دي، په هغې کښې يو ايپلي کيشن دے: ***hajj &umrah***(حج و عُمره)-

د دې ايپلي کيشن په ذريعه تاسو د حج و عُمره مختصره طريقه او د حج و عُمرے ضروري مسائل وغيره زده کولے شئ، د دې نه علاوه په دې ايپلي کيشن کښې د حج و عُمره دُعاګانې او د حرمين شريفين د اهمو زياراتو د مقاماتو معلومات وغيره هُم شامل دي- زر تر زره دا ايپلي کيش په خپل موبائل کښې اِنسټال کړئ، د دې نه فائده واخلئ او نورو ته هُم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او يو څو سُنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد

فرمائي: ”چا چې زما سُنّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي.“(1)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا　　　جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا　　　جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## صلح كول سُنَّتِ مُصطَفیٰ دي

د الله پاک د آخري نبي، رسولِ هاشِمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: کوم کس چې د خلقو په مينځ کښې صُلح کوي الله پاک به د هغه معامله دُرسته کړي، او هغه ته به په هره خبره کولو د يو غُلام آزادولو ثواب ورکړي، او چې کله بيرته را اوګرځي نو د خپلو تيرو ګناهونو نه به بخښلے شوے راګرځي.(2)

اے عاشقانِ رَسُول! د مسلمانانو ورونړو په خپل مينځ کښې ”صُلح کول“ سُنَّتِ مُصطَفیٰ دي، که کله به د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په مينځ کښې څه غلط فهمي پيدا شوه يا به چرته د دوو صحابؤ په مينځ کښې معمولي خفګان پيدا شو نو زمونږه خوږ آقا، مکّي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به حِکمتِ عملئ سره په هغوئي کښې صُلح کوله، چنانچه يو ځل د کافرو د سازش په وجه د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د دوو غټو قبيلو اَوس او خَزرَج په مينځ کښې سخت ګړ بړ پيدا شو، چې کله سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د دې خبر اوشو نو تشريف ئې راوړلو او د دواړو په مينځ کښې ئې صُلح اوکړه، دغسې د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صُلح کولو ډير واقعات دي، او د دې تفصيلي ذِکر د سِيرت په کتابونو مَثَلًا سِيرتِ مُصطَفیٰ او سِيرتِ رسولِ عربي وغيره کښې لوستلے شئ۔

---

1...ابنِ عساکر ج٩ ص٣٤٣

2...اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب، کتاب: الادب، باب: فی اصلاح بین الناس، صفحہ: 893، حدیث: 9۔

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د صُلح کولو مُتَعَلِّق دا خبره ياده ساتئ چې د مسلمانانو په مينځ کښې صرف هغه صُلح کولو جائز دي کومه چې د شريعت په دائره کښې وي- د الله پاک آخري نبي مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د مسلمانانو په مينځ کښې صُلح کول جائز دي خو هغه صُلح (کول جائز نه دي) کومه چې حرام حلال کړي يا حلال حرام کړي-[1]

د صُلح کولو مُتَعَلِّق نور معلومات حاصلولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه رساله "صُلح کروانے کے فضائل" اولولئ-

الله پاک دِ مونږ. تولو ته د "سُنَّتِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم" په نِيَّت د عاجزئ او اِنکِسارئ کولو توفيق را کړي- اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (١) د 312 صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (٢) د 120 صفحو کتاب "سُنَّتیں اور آداب" او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے "101 مدنی پهول" او "163 مدني ګلونه" هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

---

[1] ...ابوداؤد، کتاب: الاقضیۃ، باب: فی صلح، صفحہ: 570، حدیث: 3594-

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره ڪم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريڪه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريڪه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ١٥١ ملخصًا

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنھما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵